پښتو ټولنه

پرله پسې لمبر

(۱۷۶)

د پښتو مصدرونو لارښود

لیکونکی

پوهاند صدیق الله «رښتین»

۱۳۴۴ ش

PROPERTY OF ACKU
7779

... گاه کتاب فرهاد انوری
Farhad Anwari Book Store
.کر وربان سوم کابل
پست بکس ۵۴۱۸

مننه

هسې خو په هر زړه کښې، دیو ښه کار د کولو هیله پرته وي، خو د عمل جامه هله اغوندي چه یو څوک یې

وخوځوي او ده له پاڅېږه! غږ ورته وکړي.

د پښتو ژبې د ور سره زه ډېره زړه او پخوانۍ ملګرتیا لرم او خدای شته چه ډېر وخت مې په دغه

کار کښې تېر شوی دی، خو سره د دې هم چه یوه په زړه پورې یادګیرنه نه وي نو زه هم په نورو چارو وخت اړوم.

د پوهنې د پیاوړي وزیر: «ډاکتر محمد انس» پوره مننه کوم چه ما ته یې څو ځله د پښتو ژبې د زده کوونکو

د پاره د افغانو د یو نوي لارښود د لیکلو وینا وکړه. هغه ځو چه دغې یادونې زما په اراده کښې قوت پیدا کړ او په یوه هفته

کښې د دغه لارښود په لیکلو بریالی شوم. نو خدای دې وکړي چه په ربښتیا سره د لارښود وظیفه پر ځای کړی شي.

«ربښتین»

د پښتو مصدرونو لار ښود

د پښتو مصدرونه د جوړښت له مخې پر پنځه ډوله دي .

۱- لام والا : چې په آخر کښې يې د « ل » نښه وي لکه : ساتل - وتل - لرل .

۲- ول والا : چې په آخر کښې يې د « ول » نښه وي لکه : گرزول - پوهول .

۳- يدل والا : چې په آخر کښې يې د « يدل » نښه وي لکه : گرزېدل - پوهېدل .

۴- کول والا : چې په آخر کښې يې « کول » راغلی وي لکه : پخلا کول - رڼا کول .

۵- کېدل والا : چې په آخر کښې يې « کېدل » راغلی وي لکه : پخلا کېدل - رڼا کېدل .

د پښتو مصدرونه د معنی له مخې پر دوه ډوله دي :

۱- لازمي مصدرونه ، چې مفهوم يې يوازې په فاعل تماميږي او مفعول نه غواړي لکه : وتل - تلل او نور .

۲- متعدي مصدرونه ، چې مفهوم يې يوازې په فاعل نه تماميږي او مفعول هم غواړي او په معلوم او مجهول بانډې ويشل کيږي . معلوم - لکه : ساتل ،

PROPERTY OF ACKU 7779

او مجهول لکه: وهل کېدل.

۳- حکمي متعدي مصدرونه: چې په معنی کښې لازمي وي او په حکم کښې متعدي وي یعنی د (ما - تا) له ضمیرو سره استعمالیږي لکه: خندل - ژړل.

د پښتو مصدرونه د اشتقاق له مخې پر دریو ډوله دي:

۱- تغیر نه منونکي مصدرونه: چې په حالیه فعلونو کښې یې په فعلي ماده کښې کوم اساسي بدلون نه راځي لکه: ساتل چې د حال فعل یې (ساتم) دی.

۲- قانوني تغیر منونکي مصدرونه: چې په حالیه فعلونو کښې یې یو قانوني بدلون راځي لکه: وتل چې د حال فعل یې (وځم) دی.

۳- بې قانونه تغیر منونکي مصدرونه: چې په حالیه فعلونو کښې یې بې قانونه تغیر راځي لکه: کتل چې د حال فعل یې (ګورم) دی.

دا هم باید ووایو چې د پښتو ټول مصدرونه د ماضیه افعالو د راویستلو له مخې قانوني منظم مصدرونه دي، یوازې د حالیه فعلونو د جوړښت له مخې د غه دري ډوله لري. اوس غواړو چې د پښتو مصدرونو له بېلو بېلو قسمونو څخه د فعلونو د جوړښت شکلونه وښیو او د پښتو زده کوونکو ته یو نوی لارښود جوړ کړو.

لازم او لازمي مصدرونه

لام والا مصدرونه په دوو لويو څانګو وېشل کيږي: ۱ـ تغير نه منونکي مصدرونه

مثال:- منل

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	منم	ومنم	منلای شم	وبه منم	.	.	منلم	ومنلم	منلی يم	منلی وم	منلای شوم	
جمع متکلم	منو	ومنو	منلای شو	وبه منو	.	.	منلو	ومنلو	منلی يو	منلی وو	منلای شو و	
مفرد مخاطب	منې	ومنې	منلای شې	وبه منې	منه	ومنه	منلې	ومنلې	منلې يې	منلې وې	منلای شوې	
جمع مخاطب	منئ	ومنئ	منلای شئ	وبه منئ	منئ	ومنئ	منلئ	ومنلئ	منلي ياست يئ	منلي وئ	منلای شوئ	
مفرد مذکر غايب	مني	ومني	منلای شي	وبه مني	مني دي	ودې مني	مانه	ومانه	منلی دی	منلی ؤ	منلای شو	
جمع مذکر غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	منل	ومنل	منلي دي	منلي وو	منلای شول	
مفرد مؤنث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	منله	ومنله	منلې ده	منلې وه	منلای شوه	
جمع مؤنث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	منلې	ومنلې	منلې دي	منلې وې	منلای شوې	

يادونه: ۱ـ نور لام والا تغير نه منونکي مصدرونه چه د فعلونو د جوړښت لاره يې په پورته ډول ده دادي: اغزل - اچول - استول - ببنل - بخښل - بلل - پلټل - پالل - پلورل - پوښتل - تېرل - تلل - توکل - توږل - تاکل - چښل - زغمل - ځټل - ځنډل - ځيرل - ځبېرل - راوړل - داغل - رټل - ربېل - روزل - زبېښل - زنګل - ژغورل - ساتل - سپارل - ستايل - سکښل - شاربل - شېرل - شمېرل - ښندل - غندل - کرل - ګالل - ګنډل - لړل - لوښل - لېږل - ليکل - مېنځل - وهل. (دټول ۴۷ مصدره) او درست متعدي دي)

(۲) تغیرمنونکي مصدرونه

په لام والا مصدرونو کښې ځینې تغیر منونکي مصدرونه هم شته چه فعلي ماده يې په حاليه افعالو کښې تغییر خوري . دا مصدرونه ځینې قانوني شکل لري ، يعني په يوه قسم کښې له دوو څخه زيات مثالونه لري لکه : وتل . او ځینې يې بې قانونه دي چه له يو او دوو څخه زيات مثالونه لري لکه : کتل او نور .

د اول قسم مثال : وتل

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	وځم	ووځم	وتلای شم	وبه وځم			وتلم	ووتلم	وتلی یم	وتلی وم	وتلای شوم	
جمع متکلم	وځو	ووځو	وتلای شو	وبه وځو			وتلو	ووتلو	وتلي یو	وتلي وو	وتلای شوو	
مفرد مخاطب	وځې	ووځې	وتلای شې	وبه وځې	وځه	ووځه	وتلې	ووتلې	وتلی يې	وتلی وې	وتلای شوې	
جمع مخاطب	وځئ	ووځئ	وتلای شئ	وبه وځئ	وځئ	ووځئ	وتلئ	ووتلئ	وتلي یئ (یاست)	وتلي وئ	وتلای شوئ	
مفرد مذکر غایب	وځي	ووځي	وتلای شي	وبه وځي	وځي دې	ودې وځي	ووت	وووت	وتلی دی	وتلی و	وتلای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	وتل	ووتل	وتلي دي	وتلي وو	وتلای شول	
مفرد مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	وتله	ووتله	وتلې ده	وتلې وه	وتلای شوه	
جمع مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	وتلې	ووتلې	وتلې دي	وتلې وې	وتلای شوې	

يادونه : ۱- ددې قسم نور مصدرونه دا دي : الوتل - پرېوتل - پورې وتل - کښېوتل - پرې وتل - راوتل - ورو تل - ننوتل .

۲- ددې قسم مصدرونو په حاليه فعلونو کښې «ت» په «ځ» بدلېږي او د مصدري علامې پرځای متصل ضميرونه گرځول کېږي .

۳- په قانوني تغیر منونکو مصدرونو کښې [خندل، ژړل، ويل، لمبل، غپل، ختل] هم راځي ، ددې مصدرو په حاليه فعلونو کښې اول توري نه وروسته يو الف يا تېرېږي او هغو لې صيغې قانون سره سمې جوړېږي لکه : [خاندم - ژاړم - وایم - لامبم - ناځم] خو د غه مصدرونه يو بل خصوصيت لري چه په ماضي افعالو کښې يې يوازې د جمع مذکر غايب صيغه استعمالېږي ، لکه : وخندل ، خندلي دي ، خندلي وو .

دوهم قسم مثال - کتل

	استمراری حال	مطلق حال	امکانی حال	مستقبل	استمراری امر	مطلق امر	استمراری ماضی	مطلقه ماضی	قریبه ماضی	بعیده ماضی	استمراری امکانی ماضی	کتنه
مفرد متکلم	گورم	وگورم	کتلای شم	وبه گورم			کتلم	وکتلم	کتلی یم	کتلی وم	کتلای شوم	
جمع متکلم	گورو	وگورو	کتلای شو	وبه گورو			کتلو	وکتلو	کتلی یو	کتلی وو	کتلای شوو	
مفرد مخاطب	گورې	وگورې	کتلای شې	وبه گورې	گوره	وگوره	کتلې	وکتلې	کتلی یې	کتلی وې	کتلای شوې	
جمع مخاطب	گورئ	وگورئ	کتلای شئ	وبه گورئ	گورئ	وگورئ	کتلئ	وکتلئ	کتلي يئ	کتلي وئ	کتلای شوئ	
مفرد مذکر غایب	گوري	وگوري	کتلای شي	وبه گوري	گوري دې	ودې گوري	کاته، کوت	وکاته	کتلی دی	کتلی ؤ	کتلای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	کتل	وکتل	کتلي دي	کتلي وو	کتلای شول	
مفرد مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	کتله	وکتله	کتلې ده	کتلې وه	کتلای شوه	
جمع مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	کتلې	وکتلې	کتلې دي	کتلې وې	کتلای شوې	

یادونه:- ۱- دوېم قسم مثالونه دادي: لیدل - ختل - پېژندل - وژل - خوړل - موندل - پرانیستل - پرېښودل - اخیستل - لوستل - راوستل - ویشتل - کښېناستل - څملاستل - اوښتل - غوښتل. چه دحال فعلونه يې په دې ډول راځي: وینم، خېژم، پېژنم، وژنم، خورم، مومم، پرانیځم، پرېږدم، اخلم، لولم، راولم، ولم، کښېنم، څملم، اوړم، غواړم.

۲- په دې قسم مصدرونو کښې دحال، مستقبل او امر صیغې یعنې ټول حالیه افعال له استمراری حال څخه دعامې قاعدې سره سم جوړیږي او له دغه پورته گردان سره هېڅ توپیر نه لري.

۳- په دې مصدرونو کښې ځینې دوه توکیز مصدرونه دي [چه مطلق حال، مطلق امر، او مطلقه ماضي یې] دلهجې په فشار جوړیږي. او په اوله څپه یې داواز زور اچول کېږي لکه: پرانیځم، پرېږدم، راولم، کښېنم، څملم.

د تلل مصدر ګردان

دا مصدر په [مطلق حال ، امر او مطلقه ماضي کښې هم بې تغيره اغلي دي او په دې ډول دي .

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	ځم	لاړ شم	تللای شم	لاړ به شم			تللم	ولاړم - لاړم	تللی يم	تللی وم	تللای شوم	
جمع متکلم	ځو	لاړ شو	تللای شو	لاړ به شو			تللو	ولاړو	تللي يو	تللي وو	تللای شوو	
مفرد مخاطب	ځې	لاړ شې	تللای شې	لاړ به شې	ځه	لاړ شه	تللې	ولاړې	تللی يې	تللی وې	تللای شوې	
جمع مخاطب	ځئ	لاړ شئ	تللای شئ	لاړ به شئ	ځئ	لاړ شئ	تللئ	ولاړئ	تللي ياست	تللي وئ	تللای شوئ	
مفرد مذکر غايب	ځي	لاړ شي	تللای شي	لاړ به شي	ځي دې	لاړ دې شي	تلو = ته	ولاړ	تللی دی	تللی ؤ	تللای شو	
جمع مذکر غايب	〃	لاړ شي	〃	〃	〃	〃	تلل	ولاړل	تللي دي	تللي وو	تللای شول	
مفرد مونث غايب	〃	لاړه شي	〃	لاړه به شي	〃	لاړه دې شي	تلله	ولاړه	تللې ده	تللې وه	تللای شوه	
جمع مونث غايب	〃	لاړې شي	〃	لاړې به شي	〃	لاړې دې شي	تللې	ولاړې	تللې دي	تللې وې	تللای شوې	

يادونه : ۱- دا مصدر په مطلق حال او مطلق امر کښې بې قانونه تغير راځي او د [لاړ] کلمه په کښې د شول د مصدر له ګردان سره راوړل کيږي .

۲- په ځينو لهجو کښې د [لاړ شم] پر ځای [ولاړ شم] هم ويل کيږي .

د راتلل مصدر گردان

د دې مصدر په ماضيه فعلو نو کښې هم تغیر راغلی دی چه په لاندې گرېنې کښې ښو د ل کېږي.

	استمراري حال	مطلق حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	راځم	راشم	را به شم			راتلم	راغلم	راغلی یم	راغلی وم	راتلای شوم	
جمع متکلم	راځو	راشو	را به شو			راتلو	راغلو	راغلي یو	راغلي وو	راتلای شوو	
مفرد مخاطب	راځې	راشې	را به شې	راځه	راشه	راتلې	راغلې	راغلی یې	راغلی وې	راتلای شوې	
جمع مخاطب	راځئ	راشئ	را به شئ	راځئ	راشئ	راتلئ	راغلئ	راغلي یاستئ	راغلي وئ	راتلای شوئ	
مفرد مذکر غایب	راځي	راشي	را به شي	راځي دې	رادې شي	راته	راغی	راغلی دی	راغلی و	راتلای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	راتلل	راغلل	راغلي دي	راغلي وو	راتلای شول	
مفرد مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	راتله	راغله	راغلې ده	راغلې وه	راتلای شوه	
جمع مؤنث غایب	〃	〃	〃	〃	〃	راتلې	راغلې	راغلې دي	راغلې وې	راتلای شوې	

یادونه: ۱ــ د دې مصدر په [مطلق حال، مطلق مستقبل، او مطلق امر] کښې هم یو تغیر راځي او «ت» یې په «ش» بدلېږي او په مطلقه ماضي او نورو کښې یې «ت» په «غ» اوړي.

۲ــ د [ورتلل ــ درتلل] مصدرونه هم په پوره توگه د ول گردانېږي لکه: [ورشم، ورشه، ورغلم، درشم، درغلم].

۳ــ د [وړل] مصدر هم یو بې قانونه تغیر منونکی مصدر دی، خو دغه تغیر په مطلق حال او مطلق امر کښې راځي لکه: یوسي = وېسي ــ یوسه = وېسه او مطلقه ماضي یې داسې ده: وېووړه = یووړه ــ خو په استمراري، حال او امر کښې یې کوم تغیر نه راځي، لکه: وړم ــ وړه.

۳- لام والا مترادف مصدرونه

په پښتو کښې ځينې لام والا مترادف مصدرونه شته چه ټولې صيغې يې له يوه ځخه نه جوړيږي، بلکه ځينې يې له يوه او ځينې يې له بل ځخه لاس ته راځي. چه دا تغيرونه په لاندې ډول ښودل کيږي.

۱ - ايښودل = کښېښودل - ددې مصدر استمراري حال «ږدم» او مطلق حال «کښېږدم» راځي او مطلقه ماضي يې هم له دوهم مصدر ځخه کښېښود راځي.

۲- «وېستل = باسل» ددې مصدرو ماضي افعال له اول مصدر ځخه او حاليه فعلونه له دوهم ځخه جوړيږي لکه: باسم، وباسم، وبه باسم، وباسه.

۳- «وښکل = کاږل» ددې مصدرو ماضي افعال له اول مصدر ځخه او حاليه فعلونه له دوهم ځخه جوړيږي لکه: کاږم، وکاږم، وبه کاږم، وکاږه.

۴- «لرل = درلودل» د لرل - له مصدر ځخه ټول افعال جوړيږي او له - درلودل - ځخه يوازې مطلقه ماضي جوړيږي لکه: درلود.

۵- «بېول = بوتلل» له بېول - ځخه مطلق افعال نه جوړيږي او هغه له - بوتلل - ځخه راځي لکه: بوځم، بوبه ځم، بوځه، بوت.

۶- «چول = چاودل» له - چول - ځخه حاليه افعال او له - چاودل - ځخه ماضي افعال جوړيږي لکه: چوي - وچاود.

۷- «سپړل = سپړدل» له - سپړل - ځخه ټولې صيغې او له - سپړدل - ځخه يوازې ماضي افعال جوړيږي لکه: وسپړد، سپړدلی دی.

۸ـ «بنوول = بنودل» له بنوول څخه متولې صيغې او له بنودل څخه يوازې ماضي افعال جوړيږي لكه: وښود بنودلی دی.

۹ـ «رول = رودل» له ـ رول څخه متولې صيغې او له ـ رودل ـ څخه يوازې ماضي افعال جوړيږي لكه: ورود ـ رودلی دی.

۱۰ـ «كينل = كښېنستل» له ـ كينل ـ څخه دحال فعلونه او له ـ كښېنستل ـ څخه ماضي فعلونه جوړيږي لكه: كينم ـ وكښېنست.

۱۱ـ «كول = كړل» دحال فعلونه له دواړو ونه راځي او استمراري ماضي له كول ـ څخه او قريبه او بعيده له ـ كړل څخه جوړيږي لكه: كوي = كړي ـ كاوه ـ

كړی دی، كړی وُ.

۱۲ـ «كېدل = شول» له كېدل څخه استمراري صيغې راځي لكه: كېږي، كېده. او له ـ شول ـ څخه بې له استمراري ماضي څخه نور متول افعال راځي لكه: شي، وشي

وشو، شوی دی، شوی وُ.

۱۳ـ «بايلل = بايلودل» له ـ بايلل ـ څخه متول افعال راځي او له ـ بايلودل ـ څخه يوازې ماضي افعال جوړيږي لكه: بايلود، بايلودلی دی.

۱۴ـ «نيول = نيسل» دحال فعلونه له ـ نيسل ـ څخه او ماضي فعلونه له ـ نيول ـ څخه جوړيږي لكه: نيسم ـ ونيوه.

يادونه: د دې مصدرونو نور فعلونه د لام والا مصدر د عامې قاعدې سره سم جوړيږي.

۴ – ول- والا مصدرونه

د ل- والا مصدرونه په دوه ډوله دي: یو هغه دي چه اول جزیې صفت او د ذات نوم نه وي لکه: [گرزول - رسول] او بل هغه دي چه اوجزیې یا صفت او یا د ذات نوم وي لکه: [پاکول. گامول] د غه دواړه د افعالو په گردان کښې سره توپیر لري، خو د افعالو جوړښت یې د یو قانون لاندې کیږي او په دغه وجه قانوني مصدرونه گڼل کیږي.

د اول قسم مثال: پاخول، گرزول

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قریبه ماضي	بعیده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	گرزوم	وگرزوم	گرزولای شم	وبه گرزوم			گرزولم	وگرزولم	گرزولی یم	گرزولی وم	گرزولای شوم	
جمع متکلم	گرزوو	وگرزوو	گرزولای شو	وبه گرزوو			گرزولو	وگرزولو	گرزولي یو	گرزولي وو	گرزولای شو	
مفرد مخاطب	گرزوې	وگرزوې	گرزولای شې	وبه گرزوې	گرزوه	وگرزوه	گرزولې	وگرزولې	گرزولی یې	گرزولې وې	گرزولای شوې	
جمع مخاطب	گرزوئ	وگرزوئ	گرزولای شئ	وبه گرزوئ	گرزوئ	وگرزوئ	گرزولئ	وگرزولئ	گرزولي یئ	گرزولي وئ	گرزولای شوئ	
مفرد مذکر غایب	گرزوي	وگرزوي	گرزولای شي	وبه گرزوي	گرزوي دې	ودې گرزوي	گرزاوه	وگرزاوه	گرزولی دی	گرزولی ؤ	گرزولای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	گرزول	وگرزول	گرزولي دي	گرزولي وو	گرزولای شول	
مفرد مونث غایبه	〃	〃	〃	〃	〃	〃	گرزوله	وگرزوله	گرزولې ده	گرزولې وه	گرزولای شوه	
جمع مونث غایبې	〃	〃	〃	〃	〃	〃	گرزولې	وگرزولې	گرزولې دي	گرزولې وې	گرزولای شوې	

یادونه: ۱- د غه راز مشهور مصدرونه دادي: اورول، الوزول، بهول، پاخول، تښتول، تکول، جنگول، چښول، چلول، څړول، زغلول، ځلول، خندول، څورول، ځخول، څملول- خېژول، خوځول، ډارول، ډبول، رپول، شلول، غزول، غورځول، غوړول، غولول، لېږول، لېږزول، لگول، لمبول، لمسول، لوبول، رغړول، غړول، نړول- نښلول، درول، وبرول.

۲- دد غه راز مصدرونو د افعالو گردان د لام والا مصدرونو په شان کیږي او په مطلقو افعالو کښې بل کومې فعل ته ضرورت نه لري.

دوهم قسم [ول] والا مصدر مثال: ویښول

	استمراری حال	مطلق حال	امکانی حال	مستقبل	استمراری امر	مطلق امر	استمراری ماضی	مطلقه ماضی	قریبه ماضی	بعیده ماضی	استمراری امکانی ماضی	کتنه
مفرد متکلم	ویښوم	ویښ کړم	ویښولای شم	ویښ به کړم			ویښولم	ویښ کړم	ویښ کړی یم	ویښ کړی وم	ویښولای شوم	
جمع متکلم	ویښو و	ویښ کړو	ویښولای شو	ویښ به کړو			ویښولو	ویښ کړو	ویښ کړی یو	ویښ کړی وو	ویښولای شوو	
مفرد مخاطب	ویښوې	ویښ کړې	ویښولای شې	ویښ به کړې	ویښوه	ویښ کړه	ویښولې	ویښ کړې	ویښ کړی یې	ویښ کړی وې	ویښولای شوې	
جمع مخاطب	ویښوئ	ویښ کړئ	ویښولای شئ	ویښ به کړئ	ویښوئ	ویښ کړئ	ویښولئ	ویښ کړئ	ویښ کړی یئ	ویښ کړي وئ	ویښولای شوئ	
مفرد مذکر غایب	ویښوي	ویښ کړي	ویښولای شي	ویښ به کړي	ویښوي دې	ویښ دې کړي	ویښاوه	ویښ کړ	ویښ کړی دی	ویښ کړی و	ویښولای شو	
جمع مذکر غایب	″	″	″	″	″	″	ویښول	ویښ کړل	ویښ کړي دي	ویښ کړي وو	ویښولای شول	
مفرد مؤنث غایب	″	″	″	″	″	″	ویښوله	ویښه کړله	ویښه کړې وه	ویښه کړې وه	ویښولای شوه	
جمع مونث غایب	″	″	″	″	″	″	ویښولې	ویښې کړلې	ویښې کړې دي	ویښې کړې وې	ویښولای شوې	

یادونه: ۱ — دغه راز نور مشهور مصدرونه دادي: ارزانول، اسانول، اوچتول، اواړول - اوبډول، باړول، بلول، بندول، بویول، بېلول، بدلول، پاکول، ماتول، مړول، نیمول، وازول، وچول، وړانول، یادول، پخول، خبرول، لږول، ډېرول، پټول، پراخول، پوړول، پوهول، تشول، ډکول- خرګندول، خېرول، خپرول، خپلول، ټولول، جوړول، جګول، چاپول، ځایول، تودول، تویول، تیارول، تاوول، تنګول، تاوانول، خرابول، خوځول- خښول، خوږول، خوشالول، دمول، روانول، درنول، سپکول، سمول، رنګول، روښانول، زیاتول، ړندول، ژوبلول، سپینول، سړول، غوځول- غوړول، کږول، کوزول، ودول.

۲ — دغه ډول مصدرونو استمراری حال، اوامر، او ماضی داول قسم [ول] والا مصدر په قانون جوړېږي او په نورو افعالو کښي دکړل مصدر ګردانېږي.

۵ – يدل والا مصدرونه

يدل والا مصدرونه د «ول» والا په شان دوه رازه دي، يو هغه دي چه اول جزء يې نه صفت او نه دذات نوم وي. او بل هغه دي چه اول جزء يې يا صفت او يا دذات نوم وي. دغه دواړه مصدرونه دافعالو داشتقاق له مخې سره توپير لري، خو قانوني مصدرونه کمل کېږي او افعال يې د يو قانون له مخې جوړېږي.

داول قسم مثال : رسېدل

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کتنه
مفرد متکلم	رسېږم	ورسېږم	رسېدلای شم	و به رسېږم			رسېدلم	ورسېدلم	رسېدلی يم	رسېدلی وم	رسېدلای شوم	
جمع متکلم	رسېږو	ورسېږو	رسېدلای شو	و به رسېږو			رسېدلو	ورسېدلو	رسېدلي يو	رسېدلي وو	رسېدلای شوو	
مفرد مخاطب	رسېږې	ورسېږې	رسېدلای شې	و به رسېږې	رسېږه	ورسېږه	رسېدلې	ورسېدلې	رسېدلی يې	رسېدلی وې	رسېدلای شوې	
جمع مخاطب	رسېږئ	ورسېږئ	رسېدلای شئ	و به رسېږئ	رسېږئ	ورسېږئ	رسېدلئ	ورسېدلئ	رسېدلي يئ	رسېدلي وئ	رسېدلای شوئ	
مفرد مذکر غايب	رسېږي	ورسېږي	رسېدلای شي	و به رسېږي	رسېږي دې	ودې رسېږي	رسېده	ورسېد	رسېدلی دی	رسېدلی ؤ	رسېدلای شو	
جمع مذکر غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	رسېدل	ورسېدل	رسېدلي دي	رسېدلي وو	رسېدلای شول	
مفرد مونث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	رسېدله	ورسېدله	رسېدلې ده	رسېدلې وه	رسېدلای شوه	
جمع مونث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	رسېدلې	ورسېدلې	رسېدلې دي	رسېدلې وې	رسېدلای شوې	

يادونه: ۱ – د دغه قسم مصدرونو د افعالو گردان د [لام والا مصدر] په قانون برابرېږي، يوازې په حال کښې يې «د» په «ږ» بدلېږي.

۲ – په ټولو [لام والا مصدرونو] کښې چه د «ول» په ځای «يدل» راشي نو [يدل] والا مصدر ترې جوړېږي، يوازې [الوزول، خېژول] ورنه وتلي دي.

دوهم قسم مثال — وبینیدل

	استمراری حال	مطلق حال	امکانی حال	مستقبل	استمراری امر	مطلق امر	استمراری ماضی	مطلقه ماضی	قریبه ماضی	بعیده ماضی	استمراری امکانی ماضی	کتنه
مفرد متکلم	وبینیږم	وبینس شوم	وبینیدلای شم	وبینس به شم			وبینید لم	وبینس شوم	وبینس شوی یم	وبینس شوی وم	وبینیدلای شوم	
جمع متکلم	وبینیږو	وبینس شو	وبینیدلای شو	وبینس به شو			وبینید لو	وبینس شوو	وبینس شوي یو	وبینس شوي وو	وبینیدلای شوو	
مفرد مخاطب	وبینیږې	وبینس شې	وبینیدلای شې	وبینس به شې	وبینیږه	وبینس شه	وبینید لې	وبینس شوې	وبینس شوی یې	وبینس شوی وې	وبینیدلای شوې	
جمع مخاطب	وبینیږئ	وبینس شئ	وبینیدلای شئ	وبینس به شئ	وبینیږئ	وبینس شئ	وبینید لئ	وبینس شوئ	وبینس شوي یئ	وبینس شوي وئ	وبینیدلای شوئ	
مفرد مذکر غایب	وبینیږي	وبینس شي	وبینیدلای شي	وبینس به شي	وبینیږې دې	وبینس دې شي	وبینید ه	وبینس شو	وبینس شوی دی	وبینس شوی و	وبینیدلای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	وبینید ل	وبینس شول	وبینس شوي دي	وبینس شوي وو	وبینیدلای شول	
مفرد مؤنث غایب	〃	وبینه شي	〃	وبینه به شي	〃	وبینه دې شي	وبینید له	وبینه شوه	وبینه شوې ده	وبینه شوې وه	وبینیدلای شوه	
جمع مؤنث غایب	〃	وبینې شي	〃	وبینې به شي	〃	وبینې دې شي	وبینید لې	وبینې شوې	وبینې شوې دي	وبینې شوې وې	وبینیدلای شوې	

یادونه: ۱ — د دغه ډول مصدرونو [استمراري افعال] د [لام والا مصدرو] په قانون جوړیږي. یوازې مصدري «د» په «ږ» بدلیږي. او په نورو افعالو کښې یې د [شول] مصدر گردانیږي.

۶ – ۱کول والا مصدرونه

[کول والا مصدرونه] دمعنی له مخه دوه ډوله دي : یو هغه دي چه اول توکی یې دفعل جزء گرځېدلی وي ؛ او بل مفعول غواړي لکه : غنم غوبل کول.
او بل هغه دي چه اول توکی یې دمصدر جزء نه وي بلکه په خپله مفعول وي لکه : غوبل کول دغه مصدرونه داشتقاق له مخه قانوني مصدرونه دي ، او استمراري صيغې يې دلام والا مصدرونو په شان ؛ او نورې صيغې یې د [کړل] په گردان سره جوړېږي .

مثال : پخلاکول

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قريبه ماضي	بعيده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کننده
مفرد متکلم	پخلاکوم	پخلاکړم	پخلاکولای شم	پخلابه کړم			پخلاکولم	پخلاکړلم	پخلاکړی یم	پخلاکړی وم	پخلاکولای شوم	
جمع متکلم	پخلاکوو	پخلاکړو	پخلاکولای شو	پخلابه کړو			پخلاکولو	پخلاکړلو	پخلاکړي یو	پخلاکړي وو	پخلاکولای شوو	
مفرد مخاطب	پخلاکوې	پخلاکړې	پخلاکولای شې	پخلابه کړې	پخلاکوه	پخلاکړه	پخلاکولې	پخلاکړلې	پخلاکړی یې	پخلاکړی وې	پخلاکولای شوې	
جمع مخاطب	پخلاکوئ	پخلاکړئ	پخلاکولای شئ	پخلابه کړئ	پخلاکوئ	پخلاکړئ	پخلاکولئ	پخلاکړلئ	پخلاکړي یئ	پخلاکړي وئ	پخلاکولای شوئ	
مفرد مذکر غائب	پخلاکوي	پخلاکړي	پخلاکولای شي	پخلابه کړي	پخلاکوي دې	پخلادې کړي	پخلاکاوه	پخلاکړ	پخلاکړی دی	پخلاکړی و	پخلاکولای شو	
جمع مذکر غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلاکول	پخلاکړل	پخلاکړي دي	پخلاکړي وو	پخلاکولای شول	
مفرد مونث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلاکوله	پخلاکړه	پخلاکړې ده	پخلاکړې وه	پخلاکولای شوه	
جمع مونث غايب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلاکولې	پخلاکړې	پخلاکړې دي	پخلاکړې وې	پخلاکولای شوې	

یادونه : د اول قسم [کول] والا ځینې مصدرونه دا دي .

پاتې کول ، پرې کول ، پورې کول ، پوکول ، خپه کول ، ورکول ، راکول .

۷- کېدل والا مصدرونه

کېدل والا مصدرونه هم د [کول] والا په شان معنی له مخې په دوه ډوله دي لکه: [غنم غوبل کېدل] او [غوبل کېدل] دا مصدرونه هم د اشتقاق له مخې قانوني مصدرونه دي، ټولې صیغې یې د دوهم قسم [بېدل] والا مصدرونو په شان جوړېږي. یعنې په استمراري افعالو کښې «د» په «ږ» بدلېږي او نور افعال د [شول] د ګردان په واسطه جوړېږي.

لکه: پخلا کېدل

	استمراري حال	مطلق حال	امکاني حال	مستقبل	استمراري امر	مطلق امر	استمراري ماضي	مطلقه ماضي	قریبه ماضي	بعیده ماضي	استمراري امکاني ماضي	کښته
مفرد متکلم	پخلا کېږم	پخلا شم	پخلا کېدلای شم	پخلا به شم			پخلا کېدم	پخلا شوم	پخلا شوی یم	پخلا شوی وم	پخلا کېدلای شوم	
جمع متکلم	پخلا کېږو	پخلا شو	پخلا کېدلای شو	پخلا به شو			پخلا کېدو	پخلا شوو	پخلا شوي یو	پخلا شوي وو	پخلا کېدلای شوو	
مفرد مخاطب	پخلا کېږې	پخلا شې	پخلا کېدلای شې	پخلا به شې	پخلا کېږه	پخلا شه	پخلا کېدې	پخلا شوې	پخلا شوی یې	پخلا شوی وې	پخلا کېدلای شوې	
جمع مخاطب	پخلا کېږئ	پخلا شئ	پخلا کېدلای شئ	پخلا به شئ	پخلا کېږئ	پخلا شئ	پخلا کېدئ	پخلا شوئ	پخلا شوي یئ	پخلا شوي وئ	پخلا کېدلای شوئ	
مفرد مذکر غایب	پخلا کېږي	پخلا شي	پخلا کېدلای شي	پخلا به شي	پخلا کېږه دې	پخلا دې شي	پخلا کېده	پخلا شو	پخلا شوی دی	پخلا شوی و	پخلا کېدلای شو	
جمع مذکر غایب	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلا کېدل	پخلا شول	پخلا شوي دي	پخلا شوي وو	پخلا کېدلای شول	
مفرد مؤنث غایبه	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلا کېده	پخلا شوه	پخلا شوې ده	پخلا شوې وه	پخلا کېدلای شوه	
جمع مؤنث غایبې	〃	〃	〃	〃	〃	〃	پخلا کېدې	پخلا شوې	پخلا شوې دي	پخلا شوې وې	پخلا کېدلای شوې	

یادونه: په ټولو [کول] والا مصدرونو کښې چه د «کول» په ځای [کېدل] راوړل شي نو [کېدل] والا مصدرونه ترې جوړېږي. لکه: پاتې کېدل، پرې کېدل او نور.

۱- دلتو لو [لام والا مصدرونو] استمراري حال داسې جوړیږي چه د فعل ما دې په پای کښې متصل ضمیرونه ګر دانیږي متصل ضمیرونه دادي [م، و، ې، ئ، ي] لکه: [ساتم - ساتو - ساتې - ساتئ - ساتي] یا [ګورم - ګورو - ګورې - ګورئ - ګوري].

۲- مطلق حال - د استمراري حال په سر کښې د [و] په زیاتولو جوړیږي لکه: [وساتم - وساتو - وساتې - وساتئ - وساتي]

۳- امکاني استمراري حال - د فعلي صفت په آخر کښې د [شم - شو] په ګردانولو جوړیږي لکه: [ساتلای شم ساتلای شو - ساتلای شې - ساتلای شئ ساتلای شي].

۴- امکاني مطلق حال - د امکاني استمراري حال په سر کښې د [و] په زیاتولو جوړیږي لکه: [وساتلای شم - وساتلای شو - . . .] ترآخره.

۵- استمراري مخاطب امر - د مصدري [ل] پر ځای د [ه - ئ] په راوړلو جوړیږي لکه: [ساته - ساتئ]

۶- د مطلق امر د پاره د استمراري امر په سر کښې [و] زیاتیږي لکه: [وساته - وساتئ] او د غایب د پاره له [و] نه وروسته [دې] راوړل کیږي لکه: [ودې ساتي]

۷- مستقبل- دمطلق حال په منځ کښې د [به] په راوړلو جوړيږي لکه: [وبه ساتم- وبه ساتو] ترآخره

۸- استمراري مستقبل- داستمراري حال په آخر کښې د [به] په راوړلو جوړيږي لکه [ساتم به- ساتو به] ترآخره.

ماضيه فعلونه:

۹- استمراري ماضي په دې ډول راځي چه دمصدر په آخر کښې متصل ضميرونه گردانيږي او اته صيغې لري لکه: [ساتلم- ساتلو- ساتلې- ساتلئ- ساته
ساتل- ساتله- ساتلې.

۱۰- دمطلق ماضي دپاره داستمراري ماضي په سر کښې [و] زياتيږي لکه: وساتلم- وساتلو- وساتلې- وساتلئ...] ترآخره

۱۱- امکاني استمراري ماضي- دفعلي صفت په آخر کښې [شوم- شو- ترآخره] گردانيږي لکه: [ساتلای شوم- ساتلای شو... ترآخره].

۱۲- امکاني مطلقه ماضي- دامکاني استمراري په سر کښې د [و] په زياتولو جوړيږي لکه: [وساتلای شوم - وساتلای شو. ترآخره.

۱۳- نژدې ماضي دفعلي صفت په پای کښې د [يم- يو- يې- يئ- دی- ده- دي] په گردانولو جوړيږي- لکه: [ساتلی يم- ساتلي يو- ساتلی يې
- ساتلي يئ- ساتلی دی- ساتلې ده- ساتلي دي- ساتلې دي-

۱۴ـ لیری ماضی ـ دفعلی صفت په پای کښې د [وم ـ وو ـ وه ـ وې] په گردانولو جوړیږي لکه: [ساتلی وم ـ ساتلی وو ـ ساتلی وې ـ ساتلی وئ ـ ساتلې ـ ساتلي وو ـ ساتلې وه ـ ساتلې وې .

۱۵ـ احتمالي ماضي ـ دفعلی صفت په پای کښې [به وی] راځي لکه: [راغلی به وی ـ تللی به وی]

۱۶ـ تاکیدی ماضی ـ له لیری ماضی څخه دفعلي صفت په پای کښې د [به] په زیاتولو جوړیږي لکه: [راغلی به ؤ ـ تللی به ؤ .

۱۷ـ تمنايي ماضی ـ دفعلی صفت په پای کښې [وای راوړل کیږی لکه: که تللی وای ـ که راغلی وای .

۱۸ـ که چیری دمصدر د [ل] پر ځای د [ونکی] نښه راشي فاعلی صفت تری جوړیږي لکه: [ساتونکی ـ کتونکی] او په حال او راتلونکی پوری اړه لری .

۱۹ـ که چیرې د مصدر په آخر کښې [نومی] راوړل شي، نو په متعدی افعالو کښې تری مفعولي صفت او په لازمي افعالو کښې ورځنې فاعلی صفت جوړیږي لکه: [ساتلی ـ بللی ـ راغلی ـ تللی] دا صیغې په تیره زمانه اړه لري .

مجهول فعلونه

ټول مجهول فعلونه له مجهول متعدي مصدر څخه جوړېږي، دغه راز مصدرونه له اصلي متعدي مصدر او کومکي مصدر [کېدل] له ترکيب څخه لاس ته راځي لکه: [وهل کېدل - غوڅول کېدل] د افعالو د جوړولو لارې په لاندې ډول ښودل کېږي.

۱- استمراري حال له اصلي مصدر نه وروسته د [کېږي] په ګردان جوړېږي لکه: [وهل کېږم - وهل کېږې] تر آخره.

۲- په استمراري مستقبل کښې ورسره [به] زياتېږي لکه: [وهل کېږم به - وهل کېږې به] تر آخره.

۳- په امکاني حال کښې د ټولو مرکبو مصدرونو په آخر کښې «شم - شو» ګردانېږي لکه: [وهل کېدلای شم - وهل کېدلای شو.] تر آخره

۴- په مطلق حال کښې له اصل مصدر نه د مخه «و» او وروسته [شم - شو] ګردانېږي لکه: [و وهل شم - و وهل شو] تر آخره

۵- په مطلق مستقبل کښې [د مطلق حال] له [و] نه وروسته [به] زياتېږي لکه: [و به وهل شم - و به وهل شو] تر آخره

۶- په غائب امر کښې له [و] نه وروسته «دې» زياتېږي لکه: [و دې وهل شي.] تر آخره

۷- په استمراري ماضي کښې له اصلي مصدر نه وروسته [کېدل] ګردانېږي لکه: [وهل کېدم - وهل کېدو] تر آخره

۸— په مطلقه ماضي کښي له اصل مصدر نه د مخ « و » او وروسته تري "شوم - شوو" گردانيږي لکه [وهل شوم - وهل شوو . .] تر آخره .

۹— په نږدې ماضي کښي له اصل مصدر نه وروسته [شوی یم ، شوي یو] گردانيږي . لکه : [وهل شوی یم - وهل شوي یو . .] تر آخره

۱۰— په لیرې ماضي کښي له اصل مصدر نه وروسته [شوی وم - شوي وو] گردانيږي لکه : [وهل شوی وم - وهل شوي وو . .] تر آخره

یادونه : د دوهم قسم [ول والا] او [کول والا] مصدرونو استمراري فعلونه په پوره قانون برابر جوړيږي لکه : [غوځول کیږي - پرې کول کیږي] مگر په مطلق حال کښي د مخفف فعلي صفت نه وروسته [شم - شو] او په مطلقه ماضي کښي [شوم ، شوو] او په نږدې ماضي کښي [شوی یم] او په لیرې ماضي کښي [شوی وُ] گردانيږي لکه : [غوځ کړ شم - غوځ کړ شوم - غوځ کړ شوی یم] او په مطلق مستقبل کښي له اول جزء نه وروسته [به] او په غائب امر کښي [دې] راوړل کیږي لکه : [غوځ به کړ شي - غوځ دې کړ ی شي] .

منفي فعلونه

په پښتو کښې منفي فعلونه په وروسته ډول جوړېږي :

۱ — د حاضر امر د نفي د پاره د امر په سر کښې [مه] راځي لکه : [مه منه ، مه ګوره ، مه غوځوه ، مه پرېکوه]

۲ — په مرکبو افعالو کښې [مه] د اول جزء او کومکي فعل تر منځ راځي لکه : [خوار مه شې - ورک مه شې] .

۳ — د غايب امر د نفي د پاره د [و] په ځای [نه] راځي لکه : [نه دې ګوري - نه دې خوري] .

۴ — په ټولو استمراري افعالو کښې د نفي توری [نه] له فعل نه د مخه راځي لکه : [نه خوري - نه مني - نه تللم - نه پاځېدلم] .

۵ — په ټولو مطلقه افعالو کښې د [نه] توری له [و] نه يا د اول جزء نه وروسته د فعل په منځ کښې راځي . لکه : [ونه منم] ونه خورم - وبه نه مني]

کښې نه ني - پورې نه وځي - ونه مانه - پانه څېد] .

۶ — په نږدې او لیری ماضي او لرو ماضي ګانو کښې د [نه] توری له وروستي کومکي فعل نه د مخه راځي . لکه : [لیدلی نه یم - کتلی نه وم -

پرېکړ شوی نه دی - لیدل شوی نه دی - وهل شوی نه دی] او نور .

د مصدرو نو معنی

لام والا مصدرونو اول قسم

مصدر	معنی	مصدر	معنی	مصدر	معنی	مصدر	معنی	مصدر	معنی	مصدر	معنی	مصدر	معنی
اغزل	خمیرکردن	ټاکل	تعین کردن	سپارل	سپردن	لوشل	دوشیدن	مینځل	شستن	نڅل	رقصیدن	راوړل	آوردن
اچول	انداختن	چښل	نوشیدن	ستایل	ستودن	لېږل	فرستادن	منل	قبول کردن	کتل }	دیدن	وېشتل	زدن
استول	فرستادن	څټل	لیسیدن	سکنل	قیچی کردن و برش کردن	لیکل	نوشتن	وهل	زدن	لیدل }		کښېناستل	نشستن
ببنل	بخشیدن	څنډل	تکاندن	شاربل	جک زدن	لام والا مصدرونه دوهم قسم				ختل	بالا شدن	څملاستل	خوابیدن
بلل	دعوت نمودن	څیرل	چیرکردن	شړل	راندن					پېژندل	شناختن	اوښتل	گشتن
پلټل	تفتیش نمودن	څیړل	تتبع کردن	شمېرل	شمردن	وتل	برامدن	ورووتل	برامدن	وژل	کشتن	غوښتل	خواستن
پالل	پروریدن	داغل	داغ کردن	سېنډل	بخشیدن	الوتل	پریدن	ننوتل	داخل شدن	خوړل	خوردن	راتلل	آمدن
پلورل	فروختن	رټل	توبیخ دادن	غندل	بدگفتن	پریوتل	افتیدن	خندل	خندیدن	موندل	یافتن	تلل }	رفتن
پوښتل	پرسیدن	روزل	پرورش نمودن	کرل	کاشتن	پورې وتل	ازدریا عبور نمودن	ژړل	گریستن	پرانستل	کشودن	ورتلل }	
تړل	بستن	زبېښل	چوشیدن	ګالل	متحمل شدن	کښېوتل	گرفتار شدن	ویل	گفتن	پرېښودل	گذاشتن	وړل	بردن
تلل	وزن کردن	زانګل	گاز خوردن	ګنډل	دوختن	تېروتل	بازی خوردن	لمبل	غسل کردن	لوستل	خواندن	ایښودل	نهادن
توکل	تف کردن	ژغورل	نجات دادن	لېږل		راوتل	برامدن	غپل	عفعف کردن	راوستل	آوردن	ویستل	کشیدن

مصدر	معنی
لرل	داشتن
بیول	بردن
چوول	شق کردن
سپړل	شگفتن
ښودل	نشاندن
روول	کمیدن
کیندل	کندن
کول	کردن
کېدل	شدن
بایلل	باختن

ول والا مصدرونه
اول قسم

مصدر	معنی
اوروول	شنواندن
الوزول	پراندن
بهول	جاری ساختن
پاڅول	خیزاندن
تښتول	گریزاندن
ټکول	کوفتن
جنگول	جنگاندن
چڅول -	
چلول	چلاندن
ځړول	آویزان کردن
زغلول	دواندن
ځلول	درخشاندن
ځنډول	تال دادن

مصدر	معنی
ځوروول	جور دادن
څڅول	چکاندن
څملول	خواباندن
خوځول	شور دادن
ډاروول	ترساندن
ډبول	زدن
رپول	شور دادن
شلول	سکلاندن
غزول	نواختن
غورځول	انداختن
غوړول	هموار کردن
غولول	بازی دادن
خیژول	بالا کردن

مصدر	معنی
لټول	پالیدن
لړزول	لرزاندن
لگول	درد دادن
لمبول	غسل دادن
لمسول	تحریک نمودن
لوبول	{بهبازی مشغول نمودن}
غړول	چشم کشودن
رغړول	لول دادن
نړول	ویران کردن
نښلول	چسپاندن
دروول	ایستاده کردن
ویروول	ترساندن

ول والا مصدرونه
دوهم قسم

مصدر	معنی
ارزانول	ارزان ساختن
اسانول	آسان ساختن
اوچتول	بالا کردن
اواروول	هموار نمودن
اوږدول	امتداد دادن
باروول	حمل کردن
بلول	افروختن
بندول	بند کردن
بهول	جاری ساختن
بدلول	تبدیل کردن
پاکول	پاک نمودن
ماتول	شکستاندن
مړول	سیر نمودن

مصدر	معنی
وازول	باز نمودن
وچول	خشک کردن
ودانول	تعمیر کردن
ورانول	تخریب کردن
یادول	حفظ کردن
پخول	پختن
خبرول	خبر کردن
ټولول	فراهم نمودن
جوړول	ساختن
جگول	بالا کردن
چاپول	طبع نمودن
ځایول	جای نمودن
تودول	گرم ساختن

مصدر	معنی
لږول	کم کردن
ډېرول	زیاد کردن
پټول	مخفی نمودن
پراخول	وسیع ساختن
پوروول	قرض کردن
پوهول	فهماندن
تشول	خالی کردن
ډکول	پر نمودن
څرگندول	ظاهر کردن
څیرول	چیر کردن
خپرول	نشر نمودن
خپلول	از خود ساختن
تویول	ریختاندن
تیاروول	تهیه نمودن
تاوول	تابیدن

PROPERTY OF ACKU 7779

مصدر	معنی
تنگول	تنگ ساختن
تاوانول	تاوان ساختن
خرابول	خراب ساختن
خرڅول	فروختن
خښول	گور نمودن
خوږول	شیرین ساختن
خوشالول	خوش کردن
دمول	دم کردن
روانول	روان کردن
درنول	گرنگ ساختن
سپکول	سبک ساختن
رنگول	رنگ کردن
روښانول	روشن ساختن
زیاتول	زیاد ساختن
ړندول	کور نمودن

مصدر	معنی
ژوبلول	مجروح ساختن
سپینول	سفید ساختن
سړول	سرد ساختن
غوڅول	بریدن
غوړول	چرب ساختن
کږول	کج کردن
کوزول	پایان کردن
ودول	ازدواج کردن

کول والا مصدرونه

مصدر	معنی
پاتی کول	معطل ساختن
پوری کول	پیش ساختن
خپه کول	دق ساختن
ورکول / راکول	دادن
پری کول	بریدن
پوکول	پف کردن
پخلاکول	آشتی کردن

PROPERTY OF ACKU 7779
PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF
ARIC
Established
1983

[illegible]
د پوهنې مطبعه